۲- پرته دزیاتواوبوڅخه اسهال : داسهال هغه حالت چي دغایطه موادومقدارپکي کم وي معمولاً دچپ کولون یارکتوم (غټي کولمي) دناروغیوله کبله منځ ته راځي

ب - داسهال اسباب :

زیاتره اسهالات دغذادخرابوالي یاد خفیف عفونت څخه منځ ته راځي چي پخپله سره والي مومي اوکوم تشخیصي مشکل منځ ته نه راوړي . داسهال اسباب په لنډه توګه په لاندي ډول دي .

۱- روحي تشوشات ، عصبي اسهال .

۲- دکولمو مکروبي ناروغي : لکه شجیلوزس، دکولمووبروسي التهاب ، محرقه، کولرا .

۳- دکولموپرازیتي ناروغي لکه جیاردیازس، امیبیازس اونور

٤- دواګاني : مګنیشیم لرونکي انتي اسیدونه، انتي بیوتیکونه (دمکروب ضدداواګاني) ، اسهال راوړونکي دواګاني، سدبیتول اومتکلوپرماید (مکسولان)

٥- دکولمونوري ناروغي : دکولموالتهابي ناروغي، دمعدي اوکولموفستول ...

٦- سوءجذب : دکولمو دمخاط ابتدایي ناروغي لکه دلنډوکولمو سندروم اودایور تیکولوزس .

۸- دبدن دنورو احشاو(داخلي اعضا) څخه عکسات .

۹- عصبي ناروغي .

۱۰- دبدن دمعافیت کموالي .

۱۱- میتابولیك ناروغي ، هایپرتایروئیدیزم .

۱۲- سوتغذي .

۱۳- غذایي عوامل دخامو میوو اوسبزیجاتواوملینو موادوزیات استعمال .

همدارنګه داسهال ځني اسباب لاتراوسه معلوم شوي ندي .

تشخیص : داسهال خصوصي تشخیص یواځي دناروغ دتاریخچي اوفزیکي معایناتو په اسا س وضع کیږي . دبلي خوانه دغایطه موادولابراتواري معاینات داسهال دسبب په معلومولوکي هم ډیره مرسته کوي. ځکه دکولمو پرازیتي ناروغي ، دغایطه موادو په ساده معاینه کولو اودباکتریا تجریددکلچر پواسطه تشخیصیږي . البته لابراتواري معاینات بایددواداخیستلو څخه مخکي اجراشي .

تداوي : دمخه تردي چي ناروغ ته درمل شروع شي بهتره ده چي داسهال سبب پیدا اوخصوصي تداوي ئي شروع شي .

الف : دهغوفزیولوژیك تغیراتو اصلاح چي داسهال پواسطه منځ ته راځي :

۱- داسید، قلوي اومایعاتودضیاع اصلاح کول .

۲- دالکترولایتودکموالي اصلاح چي سودیم ، پوتاشیم ، مګنیزیم اوکلسیم پکي شامل دي .

۳- دسوتغذي اودویتامینودکموالي اصلاح کول .

٤- دناروغ دروحي تشویش اصلاح کول چي دخپلي ناروغي په هکله تشویش ولري .

دصدارت دمقرېه هکله ...

ځاي دځیني ملحوظاتو له امله تغیروخوړ دهیوادمحترم صدراعظم ددي پوښتني په ځواب کي چي ستاسي په نظردکابل ولس ته نوي حکومت دکارډپیلیدو څخه څومره اطمینان ورکولاي شي ؟

مورنه غوښتل چي نوي حکومت دي تراوسه وځنډیږي مونږدجلال آباد دمعاهدي سره سم غوښتل چي ټول رهبران دنوي کابیني سره یوځاي کابل ته داخل شی اونوي وزیران خپل وظایف اشغال کړي اودزړي کابیني پرځاي نوي کابینه خپل کارپیل کړي متاسفانه یوخواکثروزیران په داخل کي نه ووء مونږ چي له اخترنه وروسته راوغوښتل څوك چي په داخل کي و هغه حاضرشول، خوځیني په بهرکي وو له بعضي ورونو سره ځني ملاحظات وو چي هغه هم ددي باعث شول چي دنوي کابیني دکارپیل تراوسه پوري وځنډیږي . زه دااشتباه ګڼم دغو ورونو باید مرسته کړي وي چي کابینه زرترزره فعاله شوي وي . ځیني حلقي خوتاسو تراوسه ګوري چي منفي تبلیغات کوي ځیني حتي خپل وزیران په مشخص اورسمي ډول نه دي معرفي کړي . کمیسیونونوته خپل غړي نه دي معرفي کړي اوپه دي خاطرداکارتراوسه پوري ځنډیدلي محترم صدراعظم زیاته کړه استادرباني غوښتل چي دکابیني دکارډپیل نه مخکي باید مونږ اوهغوي یوه ګډه جلسه ولرو مونږ دي ته هم تیارشو. اوس دا ټول مرحلي طي شوي له دي نه وروسته نه باید دنوي کابیني کاروځنډیږي ، امیددي چي ډیرژروتوانیدلي شو نوي کابینه خپل کارپیل کړي او په راتلونکو څوورځوکي به مونږ دزړي اونوي کابیني یوه ګډه جلسه لرو په هغه جلسه کي به ددي فیصله کیږي چي نور دزړي کابیني دغړونه تشکر وشي اونوي کابینه پرخپل کارپیل وکړي .

دهیواد صدراعظم ددي پوښتني په ځواب کي چي آبادپغمان په غونډه کي دکارډپیل کیدو ځاي وټاکل شو وویل : اصولاً دصدارت دمقرېه ارتباط باید دکابیني جلسه خپلو لمړیو غونډوکي فیصله وکړي . دجلال آباد په موافقتنامي کي په همدي توافق شویدي او داکار دنوي کابیني لمړي غونډي ته سپارل شویدي مونږدي ته هم تیارشو.

دهیوادمحترم صدراعظم ددي پوښتني په ځواب کي چي آبادپغمان په غونډه کي دکارډپیل کیدو ځاي وټاکل شو وویل اصولاً دصدارت دمقرېه ارتباط باید دکابیني جلسه خپلو لمړیو غونډوکي فیصله وکړي . دجلال آباد په موافقتنامي کي په همدي توافق شویدي او داکار دنوي کابیني لمړي غونډي ته سپارل شویدي که دکابیني غونډي دافیصله وکړه چي مونږبه خپل عنعنوي اودسابقه صدارت په دفترکي خپل کارپیل کړو، زه تیاریم په دي کي څه مانع نه لرم که مو قتاً دځینو مقدماتي کارونو په خاطرماته په کوم بل دفترکي دکارکولو وویل شول زه همالته خپل کارپیل کوم .

ورور حکمتیار ددي پوښتني په ځواب کي چي تاسي دکوموشرایطو لاندي کابل ته دداخلیدو اراده لري وویل زه کوم خاص شرط نه لرم اوهرکله چي نوردي ته تیارشي زه حاضریم .

تبدیلي نام

۱. برادرلعل آغاولد حاجي صالح محمد حافظ قرآن عظیم الشان مربوط ولایت لغمان نام خودرا به محمدآصف دلسوزتبدیل نمود .

۲- سیدآغاولد حاجي صالح محمد خان قاري قرآن کریم مربوط ولایت لغمان نام خودرا به سیف الله تبدیل نموده است .

اووه پنځوسم اسلامي هیوادار یتریاوپیژني

دوهمه برخه ژباړه:عبدالودودمحسن

په تیرسي د۱۹۸۹کال دجون په میاشت کي دحبشي پارلمان دسولي یوپروګرام وړاندي کړچي لمړي شرط یي داوچي سره ننښتي خواوي به ډزبندي ته غاړه ږدي اویابه دخبرواترولپاره سره یوځاي کښیني ، دحبشي حکومت دخبرواتروپه وخت کي دبي طرفه کتنو ونډه اخستل لاله پخوامنلي ؤ هغه و چي دخپلواکي غوښتونکو تنظیم (اي پي ایل ایف) دخبرواترویلنه ومنله دجولاي په میاشت کي دحبشي په اشاره دامریکي بولوړرتبه ماموردنوموړي تنظیم له مشرسره لیده کاته وکړل اوبدي باب دحبشي دبهرنیوچارو وزیردخپلو ځرګندونو په ترځ کي وویل چي دحبشي اوامریکي اړیکي مخ په ښه کیدودي داخبره په دي معني وه چي ګني حبشه دامریکي دسولي له خبرواتروڅخه خپل ملاتړبنشي . دیادوني وړده چي امریکي داریتریا په کورنیو شخړوکي د(اي ، پي ، ایل ، ایف) له تنظیم څخه بشپړملاترکاوه څتیځ جرمني، مصراوسویډن دمنځګړتوب لپاره هم خپل خدمتونه وړاندي کړل په دغه وخت کي دافریقي په چاروکي دامریکي دبولوړرتبه ماموړله خوایوبیان خپورشو .

دابي چي دواړه خواوي دامریکي دپخواني جمهوررئیس جیمي کارترپه منځګړیتوب خوبني ښکاره کړي .داګست دمیاشتي په پنځمه نیټه دافریقي په چاروکي دامریکي بولوړرتبه مشاورحبشي ته راغي هغه دجمهوررئیس هیلي ماریام سره وکتل چي دڅوکلوڅخه راپدي خوادامریکي ' اوحبشي ترمینځ داوچتي پایي لومړني کتنه وه داګست په اوولسمه نیټه دامریکي پخواني جمهوررئیس جیمي کارتر داخبره په ډاګه کړه چي هغه دجولاي په میاشت کي دحبشي دوره کړي وه اوله دواړو خواوسره ئي بیلي بیلي کتني شوي وي په خپورشوي بیان کي وبل شوي ؤ چي ددواړو خواوو استازي به دستمبردااوومي نیټي دسولي په خبرواتروکي برخه اخلي داریتریا پنځګوندونویه یوه خوله اعلان وکړ چي هغوي به کله هم داي پي ایل ایف سره خبروته نه کښیني اودامریکي اوحبشي له ګډپروګرام څخه به ملاتړونکړي نوموړو تنظیمونو داالزام ولګاوه چي امریکه دسولي ترسیوري لاندي له یوه خاص تنظیم سره داړیکوپه ساتلو دنورو تنظیمونو پهٔمینځ کي داختلافاتو راپیداکولو هڅې. پرمخ بیایي همدارازنوموړو پنځو تنظیمونو ژمنه وکړه چي بوارخیزتړون به دوي ته دمنلو وړنه وي ، لدي اعلان څخه څوورځي وروسته دستمبرپه څلورمه نیټه داریتریادخپلواکي دجبهي مشر محمودحساب محمد دسودان پولي ته نژدي په یوکلي کي وویشتل شو مسلمانو خپلواکي غوښتونکو دخپلواکي جګړه داسلامي اصولو په رڼاکي پرمخ بوتله اسلامي هیوادونو له مسلمانو خپلواکي غوښتونکو سره هومره مرسته ونکړاي شوه چي څومره ورته پکاروه نتیجه داشوه ترڅوعیسائي قیادت لرونکي جبهه دلویدیځ په مرستو ډیره پرمخ ولاړه شي ، په ۱۹۹۱ کال دمي دمیاشتي په څلورویشتمه نیټه داریتریا پایتخت دالمارا دخپلواکي غوښتونکو په ولکه کي پریوت او دایتوپیاواکمني پکي ختمه شوه داریتریاد خلکودخپلواکي دجبهي عیسائي مشر اي ساس ایف ورکي دیولنډمهاله حکومت دمشرپه توګه داقتدارپه کدي کښیناست توموړي که څه هم عیسائي مذهب دي خوداریتریا دخلکودخپلواکي جبهه زیاتره له مسلمانانو څخه جوړه شویده لیکن اکثریت مشران ئي عیسائي دي دخپلواکي دغورزنګ قافله سالارتنظیم داریتریادخپلواکي جبهي که څه هم له ډیرشوکلوڅخه راپدي خواپه جګړه کي ترټولو زیاته برخه درلوده خودلویدیځوالو دسازشونو په وجه داریتریا دخپلواکي دجبهي پرځاي داریتریا دخلکودخپلواکي جبهي واك ترلاسه کړ، لویدیځوهیوادونو اوس داپروپاګنیده پیل کړي چي په اریتریاکي دمسلمانانو اوعیسایانو شمیربرابردي ، پداسي حال کي چي ښه ځرګنده ده چي اتیافیصده اوشل فیصده کله هم اوپه هیڅ صورت کي برابرېداي نشي. اي سیاس اعلان کړي چي ډیرزربه خپل تنظیم منحل کړي اوترهغي وروسته به څوګندیزه انتخابات ترسره اویوپارلماني نظام به رامینځته کړي خود نسل اومذهب پربنیادبه چاته هم په انتخاباتو کي دبرخه اخستواجازت نه وي ، داچي دانتخاباتو به څه نتایج راوځي ددي اندازه لګول څه ګران کارځکه ندي چي دنوروهیوادونو په څیرپه اریتریا کي هم اسلامي تنظیمونه له انتشارسره مخامخ دي چي دیووالي اواتفاق پرته دهغوي بریالیتوب لري بریښي چي په دي اسا س له خپلواکي څخه وروسته به اریترابیاهم یوسیکولرهیوادوي ، له خپل واکي څخه وروسته اریتریاګڼ شمیر ستونځي په مخ کي لري دیرش کلني جګړي دهیواد صنعت ، حرفت، اوکرونده هرڅه تباه ویبادکړي دلویدیځ لاس وهنو اودخپلواکي خوځنتونو ترمینځ خپل منځي اختلافاتوسیاسي مسئلي راولاړي کړي دي .

له بلي خوادمسلمانانو اوعیسایانو ترمینځ دتعصب پربنیاد دکورنیو جګړودشروع کیدو ویره هم موجوده ده داریتریادخپلواکي جبهي تورلګولي چي داي سیاس حکومت له سودان څخه دبیرته راتلونکو مهاجرینویه لارکي ستونزي پیداکوي ځکه چي داي سیاس حکومت اوس لدي څخه په ویره کي دي چي په سودان کي په لکونو میشته مهاجرین به داسلامي بنسټ پالي نظریات له ځان سره راوړي داریتریا جغرافیوي اهمیت هم دیرزیات دي اوپه بوځي لحاظ سره ئي هم اهمیت مخ په زیاتیدودي ځکه په دي سیمه چي چابرلاسي ومونډنوهغه تقریباً ټوله شمال ختیځه افریقا ترخپل واك لاندي راوستي شي امریکه اواروپا پدغه سیمه کي سیاسي بدلونونه په اساني سره نه تسلیموي دغه وجه ده چي دوي غواړي چي په دي سیمه کي دي دهغوي دخوښي حکومت

(۵)مخ

ماازجنگ نفرت داریم ،مي خواهیم همه ...

توقع خیرداشتند. جلسه شماراباآقاي رباني قدم نیکي درراه تأمین امنیت دوکشور تلقي میکنیم .

محترم «بروجردي» درارابطه به برگذاري انتخابات اخیردرکشور متبوعش به صدراعظم دولت اسلامي افغانستان معلومات ارائه نمود. اوگفت : امیدواریم حکومت افغانستان بعدازین درعمل به مجالس رسمي نقش خودراایفاکرده ودرجهت آباداني کشوربکوشد،ماباید مشکلات خودراخود حل کنیم . امریکاهیچ ترحمي نسبت به دول اسلامي ندارد ، حوداث بوسنیا مثالي ازجنایات امریکا ست ، حکام خلیج هم اینرادرك کرده اند که امریکا به نفع آنهاعمل نمیکند. رژیم صهیونست وامریکامي خواهند عراق راتجزیه کنند . فعلاً وضعیت خلیج درمرحله خیلي حساس قرار دارد، پس ازبازگشت مهاجرین افغان بایدوضعیت رقت بارتاجکستان حل میشد ، درآذربایجان هم روس هانقش خاص خودرا ایفامیکنند. آذربایجان تاهنوزتحت سیاست ونفوذ روسهاقراردارد. ولي مامیخواهیم روابط خودراباکشورهاي اسلامي توسعه دهیم . بحران بوسنیا هرزه گووینا فاجعه بزرگي است که مسلمانان به آن روبرو هستند. ما اقدام شوراي امنیت سازمان ملل متحدرا ناقص مي شماریم .امیدواریم که سران کشورهاي اسلامي بتوانند درزمینه نقش خودرافعالانه ایفاکنند، امیدواریم که افغانستان باثبات بتواند درآینده بامسلمانان بوسنیا همکاري کند.

سپس برادرحکمتیار صدراعظم دولت اسلامي افغانستان بعدازامتنان ازرهبرانقلاب ورئیس جمهورجمهوري اسلامي ایران گفتند :

برگذاري موفقیت آمیزانتخابات درایران را به شماتبریك مي گویم وازجمهوري اسلامي ایران هم توقع داریم تادرراه خدمت به اسلام واستقرارصلح درکشورماکمك کند، مي بینیم که درهمه جمهوري هاي اسلامي ماوراء النهر فعلاً روس هاحکومت مي کنند ، آنهاعادت کمونستي راافراموش نکرده اند ، غرب نیز براحزاب کمونستي اصرارمي ورزد . آنهارامورد حمایت قرارمیدهد. آنهامي خواهند ازطریق ادامه جنگ تجربه تاجکستان راتکرارکنند. ما ازجمهوري اسلامي ایران توقع داریم تامارا درراه اعاده صلح وثبات یاري کنند.

محترم صدراعظم علاوه نمود فعلاً درهیچ جاي کشورما مردم احساس امنیت نمیکنند ، انتظارماازهمه کشورها ي اسلامي خصوصاً کشورهائیکه مارادرجریان جهاد یاري کرده اند اینست که باماهمکاري نمایند. تابتوانیم خدمتي به مردم خود کرده باشیم، توافقات عملي شود، نسبت به توافقات التزام صورت گیرد، سلسله کودتاها ختم شود، ازروزیکه داود کودتاکرده است تابه امروز این سلسله ادامه دارد . مامي خواهیم درآینده نزدیك مشکلات سیاسي خودرا ازطریق انعقاد انتخابات عمومي حل کنیم ، چنانچه درمعاهده اسلام آبادوجلال آباد درین مورد توافق صورت گرفت. امیدواریم که پس ازین درنتیجه مراجعه به آراء مردم حکومات خودراتشکیل دهیم متاسفانه درجریان پانزده سال گذشته بالخصوص درجریان چهارده ماه اخیر پایتخت کشورماشاهد درگیري هاي خونین بوده ، وي علاوه نمود ، همچنان درجهان اسلام درگیري هاي وجود داردکه این درگیري ها رانمیتوان جریانات تصادفي دانست زیراکه امروز همه جنگ هامعمولاً درمناطق مسلمان نشین جریان دارد چه دراروپا ویا جاهاي دیگري فقط مسلمانان قتل عام مي شوند، منازل شان ویران مي شود، خودشان به مهاجرت مجبورمي گردند، دشمن همین را میخواهد ، آنها میخواهند ممالك اسلامي تجزیه شود، آنهابه مستعمرات ضرورت دارند، به مارکیت هاي فروش اسلحه ضرورت دارند، قضیه افغانستان هم در این توطیه هاشامل است . قبل ازسقوط رژیم نجیب بحث بین مسکوواشنگتن برهمین مسئله بودتاچطورمجاهدین راخلع سلاح کنند. آنها خواستند ازطریق ایجاد درگیري هابه این هدف برسند،

تلاش مااینست که هرچه زودترجنگ پایان یابد، صلح وثبات به کشورمابرگردد ، ماازجنگ نفرت داریم ، وجنگ صرفاً خواسته هاي دشمنان ماست ، مامي خواهیم همه مشکلات خودرا ازطریق تفاهم حل وفصل کنیم ، ما بامشکلات زیادي مواجه هستیم شش ملیون مهاجرنه کالا دارند ونه کاشانه بي، فقروگرسنگي مردم ماراتهدید میکند. دولت تاحال نتوانسته درین زمینه کاري ازپیش ببرد. بانك نوت هاي بي پشتوانه ، مشکل دیگري است که نشرو پخش آن مردم مارا بامسایل بي شماري روبروساخته است . دولت قادربه اجراي معاشات پرسونل دولتي نیست ، متاسفانه مادرین چنین یك حالت قرارداریم . مادیروز (یکشنبه ۲۳ جوزا) به استادرباني هم گفتیم :اگرهمه ماوشما قادربه این شویم که این مسایل را حل کنیم بازهم کارزیادازپیش برده ایم ، درافغانستان فعلاً اشدضرورت به وحدت است . باید همه مادست به دست هم داده کشورراازین حالت دردناك بیرون بریم . ازشما(کشورایران) هم این توقع راداریم تابامادرین رابطه کمك کنید . این واجب شرعي واسلامي شماست . مامردم زحمتکش داریم آنهامیتوانندکشورشان را آبادکنند ، ولي باید این فرصت براي شان مساعد گردد. ماامیدواریم همه کشورهاي اسلامي درین زمینه باماهمکاري کنند، که فرصت کارمساعدشود.

محترم بروجردي درپایان ملاقات گفت : براي ماامن واستقرارثبات اهمیت خاص دارد. امیدواریم که توافقات و اموریکه اخیراً شمابه آن توافق کرده ایدآغازخوبي داشته باشدومحصول خوبي خواهدداشت، واقعاً اقامه امنیت درکشورمثل که جناب عالي به آن اشاره کردید ضرورت حیاتي مردم است. مهاجرین براي عودت به کشوربه امنیت ضرورت دارد ، ماتوقع داریم که تلاش هاي نظامي جاي خودرا به تلاش هاي سیاسي بدهد .

##

دمسلمانانو ترمینځ الفت او وروروليي دقرآن اواحادیثو په رڼاکي

محمدمنصور عابد

دابوڅرګنده حقیقت دي چي دمسلمانانوترمنځ مینه محبت، الفت اودیني وروروليي دهغوښو اونیکو ذریعو اوُسیلو څخه دي چي یومؤمن انسان ترهرڅه نه زیات خداي (ج) ته نژدي کوي اوله دغه وسیلي اولاري څخه ئي دالله (ج) سره نیك اوښه تعلقات پیداکیږي .

دحسن خلق (نیك خوي) په هکله امام عزالي رحمة الله علیه فرمایي: داسلام په دین کي دحسن خلق فضیلت او ښیګنه له هیچاڅخه پټه نده ځکه خداي (ج) خپل محبوب پیامبر په قرآن عظیم الشان کي په خلق عظیم باندي ستایلي دي اوفرمایي (وإنك العلي خلق عظیم) اوبیشکه ته په لویو خویونوباندي ئي . اوحضرت عایشه رضي الله عنهافرمایي : (کان خلقهالقرآن) دنیك خوي په هکله پخپله نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایي :" زیات هغه څه چي خلك جنت ته داخلوي هغه دخداي (ج) تقوي اونیك خوږ دي"

اسامة بن شریك وایي : مونږ له رسول الله صلي الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چي ترزیاتونه زیات ښه شي چي چاته ورکړل شوي وي هغه څه دي ؟ نورسول الله (ص) وویل هغه نیك خوي دي اورسول الله (ص) فرمائي :" زه داخلاقو دښه کولو لپاره استولي شوي یم "

په بویل حدیث کي فرمائي :" هغه چي داعمالوپه تله کي زیات دروندوالي لري هغه نیك اوغوره اخلاق دي"

حضرت رسول الله صلي الله علیه وسلم ابوهریره رضي الله عنه ته وفرمائل : اي ابوهریره " دنیکو اخلاقو سره ملازمت وکړه، ابوهریره (رض) ورته وویل : یارسول الله نیك اخلاق څه دي؟ نوهغه صلي الله علیه وسلم ورته وویل : هغه چاچي درسره پریکړه کریده له هغه سره توصل اوپیوستون وکړه، اوهغه چاچي درباندي تیري اوظلم کریدي هغه ته بښنه وکړه اوچاچي څه ندي درکړي هغه ته ورکړه کوه .

همدغه شانته زیات احادیث اوآثارشته چي په اسلامي دین کي دنیکوخویونو اوښو اخلاقو چي دالفت محبت او وروروليي زیږنده اومبدا ده زیات توصیف اوستائینه کوي ، خوپخپله دالفت اوخدایي وروروليي هم په قرآن عظیم الشان اواحادیثو اواثاروکي په کافي اندازه ستاینه شویده، هلته چي الله تعالي دیوه لوي نعمت په سلسله کي چي هغه نعمت دمسلمانانو ترمنځ الفت اومحبت دي دیوه عظیم احسان اومنت په توګه اظهارکوي اوفرمایي :" که ټول هغه مال چي په ځمکه کي دي ددوي ترمینځ دسولي په خاطر دي نفقه کړي وي نوددوي دزړونو ترمنځ به دي الفت نوي راوستي لیکن الله ددوي ترمینځ الفت راووست) اولکه چي الله فرمائي : پس وګرځیدي تاسوپه مهرباني (الفت) دده سره وروڼه، همدغه رازپه همدي رابطه رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائي (ماته په ناسته ولاړه کي دیرنژدي هغه کسان دي چي غوره اونیك اخلاق ولري اوددنیا ګوټ ګوټ ترڅپلو پښولاندي کوي هغوي دخلکوسره الفت کوي اوخلك له دوي سره الفت کوي)

اوپه یوه بل حدیث کي فرمائي :" هرمومن الفت کونکي اوالفت ورسره کړي شویدي ، اوپه هغه چاکي هیڅ خیراوبرکت نشته چي نه الفت کوي اونه ورسره دنورومینه اومحبت وي ".

دتیروشویو آیتونو اواحادیثو څخه داتیجه لاس ته راځي چي الفت محبت اویوبله سره ناسته ولاړه هغه نیکه اوغوره ذریعه اووسیله ده چي ددوو مومنانوترمینځ ټول اختلافات ، شکوك اوشبهات بدبیني اوزړه بدوالي ، چي داټول دچغلګرو ځمانو اومنافقینودسلسلو فعالیتونو په سلسله کي رامینځ ته کیږي اودمؤمنانو ترمینځ دنفرت اوانزجارشرایط اویوه مکدره فضا ، راپیداکوي دهمدي لاري څخه مرفوع کیږي اودمنافقینو هغه ناروا امیدونه چي دمومنانوپه اړوند ئي لري ټول سره نیست اونابود وي . همدغه رازرسول الله (ص) داسلامي اخوت اودیني وروروليي په برخه کي ارزښتناکه ارشادات لري هلته چي فرمائي : (کله چي الله (ج) په چاباندي دخیر اراده وکړي یونیك اوصالح ملګري ورته په برخه کوي که ئي هیروي یاد وي ئي اوکه ورته یادوو کومك ورسره کوي) اوبیاقرمایي :" ددوو وروڼو دیوځاي کیدو مثال هغه ته ورته دي لکه دوه لاسونه چي یواویل سره مینځي اودوه مومنان کله هم ندي یوځاي شوي مګرداچي الله (ج) له یوه څخه بل ته دخیر فائده اونفع رسوي "

رسول الله (ص) خدائي وروروګلوي ته خلك زیات تشویق اوترغیب کریدي اوفرمائي: "څوك چي دخداي (ج) په خاطر له یوچاسره وروروګلوي وکړي په جنت کي به ئي درجه هومره اوچته شي چي په کوم بل عمل باندي به هغي درجي ته نشي رسیدلي » ابوادریس خولان (رح) حضرت معاذ (رض) ته وویل :" دخداي (ج) په خاطر درسره مینه محبت لرم نوهغه ورته وویل : زیري درکوم اوبیاهم زیري درکوم چي مادرسول الله (ص) څخه اوریدلي دي چي هغه به ویلي : دقیامت په ورځ دعرش عظیم ګردچاپیره به دڅه خلکولپاره کرسي کیښودلي شي، دهغوي مخونه به دځوارلسم سپوږمي په شان وي نورخلك به ځوریږي خودوي به ځورنکوي، نورخلك به ویریږي اوله دوي سره به ویره نه وي دوي دخداي (ج) هغه دوستان دي چي ته په دوي باندي دارشته اونه به دوي غمجن وي، نوهغه صلي الله علیه وسلم ته وویل شول، اي دخداي (ج) رسوله داڅوك دي ؟ هغه ورته وویل داهغه کسان دي چي دخداي لپاره یوله بله سره مینه اومحبت کوي .

داچي یومسلمان بل مسلمان ته دوروري لاس ورکوي اودوروري تړون ورسره کوي په اسلام کي دغه تړون ته عقدمواخاة (دوروري تړون) ویل کیږي داتړون دتورو تړونونو په شان څه حقوق اووجائب لري چي دهغوي مراعات ساتل دتړون دواړو جانبونوته ضروري اولازمي امردي، امام عزالي رحمة الله علیه ددغه تړون وجائب اوحقوق په اتوفقروکي په لاندي توګه تشریح او توضیح کریدي چي په مختصرشکل دلته رانقل کیږي :

۱- مالي حقوق : داپدي معني چي یومسلمان وروردبل مسلمان ورور په مال کي حق لري چي داحق په دریو مشکلاتوکي اداء کیدلي شي .

یوداچي یومسلمان وروربل مسلمان وروروته دیوه خادم په حیث باندي قائل شي چي په دغه صورت کي به دفاضل مال څخه دهغه ضرورتونه پوره کوي چي البته داداخوت ډیره ضعیفه مرتبه ده .

دوهم داچي یومسلمان وروربل مسلمان وروروته دځان په شکل قایل شي لکه څنګه چي هغه په خپل مال کي دتصرف حق لري نومسلمان وروروته به هم دهغه په مال کي دتصرف حق ورکوي .

دریم داچي خپل مسلمان وروریخپل ځان باندي غوره اومقدم وبولي چي په دغه صورت کي دخپل مسلمان وروروضرورت اواحتیاج دخپل ځان څخه ړومبي پوره اواداء کوي اوداداخوت هغه لوړه مرتبه ده چي په اسلامي تاریخ کي دصدیقینودمحبت او وروري په نتیجه کي رامینځ ته شویده .

۲- ځاني اوجسمي حقوق :

داپدي معني چي یومسلمان ورور دبل مسلمان وروریه ځان اوجسم کي حق لري چي هغه په ټول ځاني توان اوطاقت سره دخپل وروررضرورتونه اوارتیاوي پوره کړي اودهغوي په پوره کولو کي دهیڅ نوع ستړتیااوستوماني څخه ځان ونه ژغوري اوپه سره سینه اوپراخ تندي باندي دهغه تکالیف دخپل توان اوطاقت سره سم په غاړه واخلي .

۳- دژبي حقوق دسکوت اوچوپتیا له پلوه . ا نوربیا

دهندصدراعظم عمان ته

خانو دتاسیس موافقه کړي او ډیرژربه دعمان دمشرسره ملاقات وکړي .

توقع ده چي راوبه دعمان مشر ته بیاداداد ګیرنه ورکړي چي داسرائیلو سره . دهنددسیاسي روابطو دټینګیدوفیصله چي دجنوري په میاشت کي وشو. دفلسطین دداعیي سره دهند عنعنوي ملاتړ نه کمزوري کوي .

نیروهاي پاسدارصلح سازمان ملل متحدرا از۹ ریاست آنکشوربیرون رانده دفاترآنهارا اشغال نمود .

طبق گفته (ایرك خاست) ترجمان موسسه سازمان ملل متحد، اردوي کمبودیائي پس ازآنکه صاحب منصبان فوق الذکراخلع سلاح وازدفاترشان بیرون راندند آنهابه مراکزحکومات ایالتي "پنگ" و"سوي" پناه برده اند.

ترجمان اضافه نموده است حیني که عساکرکمبودیائي به این اقدام دست زدند ازفیرهاي هوائي استفاده نمودند، تاهنوز ازتلفات وزخمي شدن کسي اطلاعي دردست نیست .

##

اردوي کمبودیا دفاترصاحب منصبان نیرو هاي پاسدار صلح سازمان ملل راتسخیرنمود

پنوم پن - ۲٤ جوزا :

اردوي کمبودیا صاحب منصبان

نومیالي مجاهدمولوي

په خبرکي داهم ویلي شوي چي تیرکال وروسته له هغه چي دسیدکریم زوي کریم شاه په غلاونیول شو، دمولوي صاحب شرعي فتواسره سم دهغه لاس غوڅ کړي شو، خوکریم شاه بیاهم اصلاح نه شو اوپه لاروهلواوږلوبي پیل کړل اوبالاخره تیره ورځ یې مولوي صاحب هم په شهادت ورساوه .

دننګرهار په اسلامي پوهنتون کي دکونړونو ولایت دمحصلینو اسلامي ټولنه جوړه شوه

جلال آباد :

دتیري چارشنبي په ورځ دننګرهاراسلامي پوهنتون څخه دمحصلینواسلامي ټولني اداره خبرراکوي چي د۱۳۷۲ هـ ش کال دجوزاپه (۱۹) نیټه دکونړولایت ګن شمیر محصلین دننګرهارپه اسلامي پوهنتون کي راټول شوي وو. په سرکي دورورحبیب الرحمن له خوادقرآن عظیم الشان څو آیاتونه ولوستل شول بیادکونړولایت څو تنومحصلینو دمحصلینوداسلامي ټولني داهمیت په باب وینااوي وکړي . بالاخره دغونډي ټولو ګډون کوونکو محصلینودرایوپه اتفاق ددي ټولني جوړیدل تصویب کړل او ددي ټولني تشکیلات په لاندي دول اعلان شول :

۱- عبدالواحد (واثق) دانجنیر پوهنځي محصل دعمومي ناظم په توګه

۲- محمدخالق (حازم) داقتصاد پوهنځي محصل دمرستیال په توګه

۳- عبدالنصیر(ستوري) دانجنیري پوهنځي محصل داداري مسوول په توګه

٤- حبیب الرحمن فاروقي دشرعیات پوهنځي محصل دفرهنګي مسوول په توګه

٥- سیدکریم دزراعت پوهنځي محصل دمالي مسوول په توګه

٦- نذیرالله (نهضت یار) دشرعیات پوهنځي محصل دارتباط مسوول په توګه

۷- حبیب الرحیم (زهیر) دزراعت پوهنځي محصل داطلاعاتو دمسوول په توګه

۸- عبدالوهاب (نسیمي) دزراعت پوهنځي محصل دکنفرانسونو دمسوول په توګه

۹- ضیا شفیق (یوسفزي)د زراعت پوهنځي محصل دحلقاتو دمسوول په توګه

۱۰- عبدالقیوم (زاهد) دادبیات پوهنځي محصل دټولني دویاند په توګه

هدف استکباردرسومالی ...

شوراي امنیت درسومالي موجودبوده وکارمي نمایند، عمل نادرست دانسته ، شاید پاکستاني ها مورد هجوم قرار گرفته باشند، ولي سوال مادرمورد موجودیت ایشان زیراشراف قواي بیگانه درسرزمین اسلامي به قوت خویش پابرجامي باشد .

تازمانیکه مشکلات مسلمانان درجهان حل نگردیده وسازمان ملل متحدعملاً براي استرداد حقوق حقه مسلمانان درفلسطین ، بوسنیا، کشمیر، تاجکستان ، ازبکستان اقدام نوورزیده باشد، هرگونه همکاري نظامي راباابن سازمان بویژه درسرزمین هاي اسلامي به نفع استکبار دانسته، تجاوزبه کیان اسلامي مي دانیم .

نتایج موجودیت ارتش پاکستان درسومالي آنهم زیراشراف قواي اجنبي به هیچ صورتي به نفع جهان اسلام وپاکستاني هانبوده ، عقده وعداوت رامیان پاکستاني ها وسومالي ها به بارآورده وادامه این وضع موجب اختلافات شدیددرجهان اسلام خواهد گردید .

براي پایان جنگ داخلي سومالي ، بهتراست پاکستان به همکاري کشورهاي اسلامي وسازمان کشورهاي اسلامي داخل اقدام گردیده ومشکل سومالي که مشکل داخلي جهان اسلام است درخانه خود مسلمانان به همکاري برادران مسلمان حل وفصل گردد. تابدین ترتیب سومالي هاازبرادرکشي وآتش جنگ داخلي نجات یافته، صاحب کشورآزادویاامن ، بدون مداخله استکبارجهاني گردند .

بقیه نامه ها

دپیښورڅخه نیکوهیلواودزړه له کومي ګیهي ګیهي سلامونوته موعلیکم السلام وایو دادي ستاسي لیك موکت مټ خپورکړ هیله ده چي له هغه چانه چي درواغوښتنودپوره کیدو هیله ورڅخي لري، مثبت ځواب واوري اوستاسي مشکل به حل کړي . والسلام

##

اسنادفراغت فارغان کورس هاي تربیوي نسوان توزیع شد

این مراسم که بااشتراك برخي ازنمایندگان واستادان لیسه الایي لیسه نسوان نمبر۲ ، شفاخانه پوهنتون وتعدادي دیگرازخواهران درمحوطه متوسطه قصبه دایرگردیده بود بعدازتلاوت آیاتي ازکلام الله مجید آمره لیسه الایي ، آمره متوسطه قصبه پیرامون تدویر همچوکورسهاسخنراني نموده واهمیت آنهارا به حضارتشریح نمودند .

مراسم بادعائیه آمره متوسطه نسوان قصبه پایان یافت .

شوراي جهادي..

باشوراي جهادي سروبي به آن ساحه رفته بود ، لذا هیئت درحالت دفاعي قرارگرفتند، درین هنگام مجاهدین مربوط محاذ درمنطقه بین طرفین حایل شده ودرگیري خاتمه یافت .

درین درگیري یك نفرازافراد اتحاد کشته و٤ نفر ازجمله افراد اعزامي شوراي ننگرهارزخمي شده اند که دونفرآن مربوط مجاهدین قوماندان شمالي ودونفردیگران شامل مجاهدین انجنیرغفارمیشدند .

خبرنگار شهادت ازقول یك منبع شوراي جهادي ننگرهار مینویسدکه جلسه شورابمناسبت بررسي واقعه دیروز واخذ تصمیمات لازم درطول روزچهارشنبه الي ساعت ۱۰ شب ادامه داشت هنوزمعلوم نیست که شورادربرابراین عمل قوماندان اتحاد چه تصمیمي میگیرد .

نخستین جلسه ...

درکمیسیون معرفي گردیده بود ولي وي درین جلسه حاضرنشده به جاي آن یونس قانوني شرکت نموده بود. یونس قانوني هم اوربند وجمع آوري سلاح ثقیله راازجمله مواد فیصله شده کمیسیون متذکره خواند .

نماینده حزب وحدت هاشمي گفت دیگران فیصله هاي کمیسیون راقبول کند مانیزبه آن عمل خواهیم کرد .

درخبرعلاوه گردیده که کمیسیون جلسه شان را امروزپنجشنبه نیز برگزاري خواهند کرد.

دورکي اعلان

بودري کلن ماشوم چي دانه ګل نومیږي اودڅاګل زوي اودشګي اوسیدونکي دي له دوو ورځواهیسي دننګرهارولایت دقول اردو له فامیلیو څخه ورك شویدي.

نوموري ماشوم خړي جامي اغوستي ، سپیني چپلکي یې په پښو اوپه سرسرتوردي .

که هرچاته معلوم وي اویایي ویني نوداسلامي اوانساني همدردي له مخي دي دننګرهار ولایت نظامي کمیساري ته خبرورکړي .

ملګري ملتونه داحق لري چي دبشر دحقوقو ساتنه وکړي

ویانا - دغبرګولي ۲۵ مه :

دملګروملتوعمومي منشي بطروس غالي وایي چي بین المللي ټولنه داحق لري چي کله یودولت دخلکوحقوق ترپښولاندي کړي دهغې مخنیوي وکړي .

په ویانا کي دبشردحقوقو دکنفرانس په اختتامیه وینا کي بطروس غالي وویل چي دولت باید دبشردحقوقو ترټولو ښه ضامن وي مګرهغه وویل کله چي یوملك خپله وظیفه نه اداکوي نوډین المللي اقدام امکانات باید زیات کړل شي .

طرفداران اتحاد نیروهاي دیموکراتیك خواستاراستعفاي رئیس جمهوربلغاریا شدند

صوفیه- ۲۵ جوزا :

ده هاهزارهواداراتحاد نیروهاي دیموکراتیك روزسه شنبه طي تظاهرات درصوفیه پایتخت بلغاریا خواستاراستعفاي رئیس جمهورآنکشور شدند .

به گزارش خبرگزاري ها در چندشهر بزرگ بلغاریا تظاهراتي مشابهي برپاگردیده بود.

هم زمان بااین گردهم آیي هامعاون رئیس جمهوربلغارستان که درموارد مختلف با"ژیف" رئیس جمهور آنکشورمخالفت مي کند روي صفحه تلویزیون ظاهرشدوضمن تشویق تظاهرکنندگان خواستاربرپائي انتخابات پارلماني پیش ازموعد مقررشد.

تظاهرکنندگان رئیس جمهوراپادست یاري کمونستان پیشین درساختاریك دیکتاتوري جدیددرآنکشورمتهم نموده اند .

دتبت روحاني مشرپه بین المللي کنفرانس کي ویناوکره

تبت - دغبرگولي ۲۵ مه :

دتبت روحاني مشر دواېلاما تیره ورځ په ویاناکي دملګروملتونو دبشردحقوقودبین المللي کنفرانس غیرحکومتي سازمانونته ویناوکره سره له دي چي چین داهڅه وکړه چي دتبت دنوموړي تبعیدشوي روحاني مشر دوینامخه ونیسي داطریش دحکومت یوه نطاق وویل چي دایلاما دویناپه برخه کي فیصله داطریش دخارجه وزیر اوددغه کنفرانس دعمومي منشي ابراهیم پال ترمنځ له ډیرومذاکراتو وروسته وشوه پدي موافقه کي له دایلاما څخه غوښتل شوي چي یوازي دبشردحقوقودجهاني دندي په باره کي خبري وکړي اوچي تبت کي دبشر دحقوقو دتیریوپه باره کي څه ونه وایي .

تبت دچین ترواکداري لاندي دي .

دوتن ازمقامات انگلستان وامارات متحده عربي باهم دیدارکردند

ابوظبي - ۲۵ جوزا :

معاون وزیرامورخارجه انگلیس باوزیرمشاوردرامورخارجه امارات متحده عربي به روزسه شنبه درابوظبي بایکدیگردیدارکردند

طبق گزارش منابع خبري جهان دراین دیدارطرفین درمورد مسائل امنیتي منطقه ، وهمکاري هاي دوجانبه تبادل نظرکرده اند

بل کلنټن دمرافعي قاضي دمتحده ایالاتودمشري محکمي دیوه چوکي لپاره ونوماو

واشنگټن - دغبرګولي ۱۵ مه :

بل کلنټن دفدرالي حکومت دمرافعي قاضي دمتحده ایالاتو دستري محکمي دقاضیانودیوي چوکي لپاره نومولي دي .

دااول واردي چي کلنټن دخپل جمهوري ریاست په دوران کي دستري محکمي لپاره قاضي ټاکي که دمشرانو جرګه دهغي مقرري تصویب کړي دابه دستري محکمي په قاضیانوکي مهمه خبره وي.

رهبرجنبش جدائي خواه شرق کامبوج به ویتنام گریخت

۲۵ جوزا :

به اساس گزارش خبرگزاري فرانسه "چکایو" پسرسهانوك ورهبرجنبش جدائي خواه شرق کامبوج به ویتنام گریخته است .

بنابه گفته مقامات سازمان ملل نور دم چکایو روزسه شنبه به خاطري کا مبوج راترك کرد که مقام هاي دولتي پنوم پن به اوهوشدارداده اند که تجزیه کامبوج را ادامه دهد .

چکایوبه عنوان اعتراض انتخابات اخیردرکامبوج جنبش جدائي خواهي براه انداخت وهفت ایالت شرقي را خودمختاراعلان کرد. درین انتخابات برادر وي که رهبرگروه موسوم به حزب سلطنت طلبان است پیروزشد.

دچین صدراعظم دلومړي حل لپاره په یوه عام محضرکي راښکاره شو

پیکنګ - دغبرګولي ۲۵ مه :

دچین صدراعظم لیپنګ په دوو میاشتوکي دلومړي ځل لپاره په عام محضرکي ښکاره شو .

په هغه باندي دوي میاشتي مخکي دزړه حمله راغلي وه .

لي دهغه هرکلي په مراسمو کي ګډون کړي وو چي دمالیزیا دصدراعظم لپاره په چین کي تیول شوي وو .

خبرځاي وایي ٦٤ کلن صدراعظم لیپنګ سه تکړه اوخوشحاله معلومیده مګریوڅه ډنګرشوي وو .

رهبران نظامي سه گروه متخاصم به خاطرآتش بس درمیدان هوایي سرایبو ملاقات مي کنند

سرایو- ۲۵ جوزا :

قراراست رهبران نظامي سه گروه متخاصم براي دست یافتن به یك آتش بس جدید درمیدان هوائي سرایوو ملاقات کنند .

طبق خبر این اولین باراست که این فرماندهان گردهم مي آیندو نیروهاي حفاظتي سازمان ملل متحداین اجتماع را بسیار مفیدخوانده اند .

ریاست این گفتگوهارا جنرال " لارك ایل وال " به عهده خواهدداشت . طبق گزارش رادیو بي بي سي باتوجه به اینکه اغلب آتش بس هاي گذشته به شکست مراجه شده است. جنرال موصوف مي خواهد به فرماندهان متخاصم بقبولاندکه براي موفقیت آتش بس آینده تدابیرجدید بیندیشند.

شهادت

برادرحکمتیار صدراعظم کشوراعضاي شوراي جهادي ولایات پروان وکاپیسا راجهت ملاقات بحضورپذیرفتند

چهارآسیاب - ۲٤ جوزا :

یك منبع دفترمؤقت صدارت عظمي دولت اسلامي افغانستان به اداره روزنامه شهادت گزارش داد که برادرحکمتیارصدراعظم کشوروامیرمجاهدحزب اسلامي افغانستان ساعت ۳۰ : ۱۱ بجه قبل ازظهرروزدوشنبه ۲٤ جوزاي سال جاري اعضاي شوراي جهادي ولایات پروان وکاپیسا رادرقصردفترمؤقت صدارت عظمي واقع چهارآسیاب جهت ملاقات به حضورپذیرفت .

طبق گزارش درین دیدار استاد عبدالصبور "فرید" ، استاد فتح محمد ، انجنیرمحمدطارق ، احمدي واستادعبدالواحد شرکت ورزیده بودند .

قابل ذکراست که برادرانجنیرعبدالسلام هاشمي رئیس کمیسیون نظامي حزب اسلامي نیز درین جلسه حضورداشت .

اعضاي شوراي جهادي پروان کاپیسا بالنوبه درمورد موضوعات جاري آن ولایات به برادرحکمتیار معلومات دادند . طبق گزارش امیرحزب اسلامي جهت رفع مشکلات شوراي جهادي آن ولایات هدایات ودستورات لازم صادرنمودند

حزب الله لبنان عملیات امریکاعلیه‌ملت سومالی رامحکوم نمود

بیروت - ۲۵ جوزا :

حزب الله لبنان عملیات نظامیان امریکائي علیه ملت مظلوم صومالي رامحکوم کرده ، خواستارمقابله ملت هاي آزادومستضعف بامظالم امریکادرنقاط مختلف جهان شد .

طبق گزارش رادیو ایران دربیانیه حزب الله که روز سه شنبه دربیروت انتشاریافت آمده است جنایتي که امریکا درصومالي زیرچترسازمان ملل انجام میدهد دلیل تازه ئي براین ادعااست که سازمانهاي بین المللي دنباله رو سیاست هاي توسعه طلبانه امریکاهستند، درین بیانیه حزب الله بیادآوري سیاست دوگانه غرب وسازمان ملل درقبال مسائل بین المللي ، امریکارامسئول تمامي جنایات نموده است که درجهان علیه ملل مستضعف انجام مي گیرد .

به اثرانفجار مین درمیدان هوایي بگرام

چهارفروندطیاره جنگي اداره ائتلافي منهدم گردید

کابل - ۲۵ جوزا:

خبرنگارشهادت به نقل ازمنابع موثق میدان هوایي خواجه رواش اطلاع میدهدکه روزیکشنبه ۲۲ جوزابه اثرانفجارمین هاي اتصالي که قبلاً درمیدان هوایي بگرام کارگذاشته شده بود ٤ فروند طیاره جنگي اداره ائتلافي منهدم ویدوطیاره دیگرخسارات زیادواردآمد .

درخبرعلاوه شده که پس ازاین انفجارتقریباً تمام محافظین میدان بگرام به امراحمدشاه مسعود زیرنظارت گرفته شده وبعضي ازمحافظین مذکور غرض تحقیقات مزیدبه میدان هوایي خواجه رواش انتقال یافته اند.

اداره ائتلافي تاهنوز منبعي رابه دست داشتن درین انفجارمشخص نساخته است .

درخبرگفته شده که در این اواخر ساحه کار افرادموجودشوراي نظاردرمیدان هوایي خواجه رواش بسیارمحدود شده وروابط شان باافراد رشیددوستم بسیارتیره شده میرود .

دراثرسرازیرشدن سیلاب درولایت بامیان تلفات وخسارات به آن منطقه وارد گردید

بامیان - ۲٤ جوزا :

یك منبع جهادي ولایت بامیان گزارش دادکه طي پانزده روز اخیر سیلاب هاي پیهمي درمربوطات مرکز بامیان ، ولسوالي یکاولنگ واطراف آن سرازیرشدتلفات وخسارات جاني ومالي بي شماري رابه اهالي آن مناطق واردنموده است .

چندي قبل دراثر سرازیرشدن سیلاب درولایت بدخشان هم چندین نفرکشته واقلاً صدباب خانه مسکوني ویران گردید .

بطروس‌غالي بوسنیاته‌د۷۵۰۰ نوروسوله ساتونکوعسکرولیږلوغوښتنه کړي

سرایبوو- دغبرګولي ۲۵ :

دملګروملتونوعمومي منشي بطروس غالي بوسنیا ته د ۷۵۰۰ نوروسوله ساتونکوعسکروغوښتنه کړیده چي دملګروملتونو لخوا په شپږو اعلان شویو محفوظو سیموکي دمسلمانانو ساتنه وکړي .

بطروس غالي دملګروملتونو دامنیت شورا ته تیره ورځ په یوه رپوټ کي وویل چي دغه عسکرپه بوسنیا کي دمسلمانانو دځایونو حفاظت وکړي . نوموړي وېلي چي دمسلمانانودحفاظت لپاره تقریباً ۳٤ زروعسکروته ضرورت دي

دملګروملتوعمومي منشي دناتودپوځي ترون څخه غوښتي دي چي دخپلي هوایي قوي دتنظیمولو لپاره تیارسي ونیسي .

دمتحده ایالاتومامورین پدي ټینګارکوي چي دمسلمانانو دحفاظت لپاره دغه دول هوائي حملي ضروري دي .

اظهارتسلیت

نسبت رحلت عالم بزرگوارمرحوم مولوي میاسیدمحمدحسین به تمام بازماندگان مرحومي بالخصوص میااروال کارمندرادیوتلویزیون پیام آزادي وسائراعضاي فامیل محترمش اظهارتسلیت نموده ازبارگاه ایزدمتعال براي مرحوم درجات عالي وبراي بازماندگانش اجرعظیم وصبرجمیل راارزوداریم .

ازطرف منسوبین رادیوپیام آزادي

دشهادت ورځپاڼي له خپرونوڅخه

نوي کابینه

اسنادخبري کوي

کال - د۱۳۷۲ دوري میاشت

(اسنادخبري کوي) دهغي رسالي نوم . دي چي دهیواددرواڼوپیښواو په ځانګړي توګه داسلام آباد معاهدي اوله هغي وروسته دکابینې دجوړیدو په هکله دجهادي مشرانوله غونډو، پریکړواومشورو څخه شاهدي ورکوي نود(اسناد خبري کوي) رساله ولولي، پدي رساله کي دکابینې دجوړیدوپه اړوند موثق اسناددرج شوي اودایه ډاګه کوي چي څوك دستونزي حل غواړي اوڅوك دجګړي لاره غوره کوي .

دغه مستنده رساله داخل اوبهرکي دشهادت له نمایندګیو څخه ترلاسه کولاي شي .

قیمت (٥) کلدار

دشهیدجګړن محمدنورخان «نوروز» لومړي کلیزه دي مبارکه وي

دحق دلاري اتل داعي

اوداسلامي انقلاب ځلانده ستوري جګړن محمدنورخان " نورزي" دحاجي خداي نور " نورزي " زوي دننګرهارولایت دچپرهار ولسوالي دقلعه شیخ دکلي اوسیدونکي چي دتیرکال دجوزا دمیاشتي په ۲٤ په نیته دشهادت لوړمقام ته رسیدلي دشهادت کلیزه ئي دي ټول اسلامي امت ته مبارکه وي .

وياړمن مجاهد انجنیر عبدالخالق په شهادت ورسید

دحق دلاري اتل داعي اوداسلامي انقلاب رښتیني سپاهي انجنیر عبدالخالق دقوماندان محمدزمان زوي دکونړولایت داسمارولسوالي دنیشه ګام کلي اوسیدونکي د۲٤ کلونو په عمردشهادت لوړمقام ته ورسید .

مجاهدورور عبدالخالق چي لومړي زده کړه ئي دبارګام په منځني ښوونځي کي ترسره کړه په ۱۳٦۸ کال کي دعالي تحصیلاتو دپرمخ بیولو لپاره دT.R.C په انجنیري پوهنځي کي شامل شو ، وروسته بیانوموړي په ۱۳۷۱ کال داکلوږ موسسه کي دداکترډمرستیال دنده وروسپارل شوه‌په اخرکي دروان کال دغویي دمیاشتي په ۱۰ نیته دخپل ځاي په ساحه کي دیومین دچاودني له امله په شهادت ورسید .

روح یې دي ښادوي

فرمان الهي

خداوند(ج) میفرماید:

پس قسم به پروردگارتوکه ایشان مسلمان نباشند تاآنکه حاکم کنند ترادراختلافي که واقع شود میان شان ، بازنیابند دردل خویش تنگي وازآنچه حکم فرمودي

ارشادنبوي

حضرت ابوذر(رض) درمورد وظیفه وماموریت ازپیامبر(ص) سوال کردآنحضرت (ص) درجوابش فرمودند :

«توضعیفي وآن امانت است ودرروزقیامت موجب ذلت وپشیماني است ،مگرآنکه به حق عمل کند وآنچه بعهده اوست تأدیه نماید»

دسرمقالي پاتي برخه

مرام لپاره یي خوورځي روښي ددوي په خیال دافغانستان دستربنیادګرتحریك دمشرحکمتیار سره چي په حکومت کي دصدراعظمي دنده ورتر غاري ده، دښځو دحقوقویه باب مرکه وکړه ، خودغي لویدیزخبریال داسي څه واوریدل ، چي حیران پاتي شو، اوهغه داچي تراوسه لاهیڅ یوه سیاسي نظام هم ښځوته کماحقه حقوق ندي ورکړي توځکه که دلویدیځ حیوان صفته دیموکراسي اوجنسي جنون څوك دښځو برخه ګڼي، تواشتباه به یې کړي وي ، اوهغه به یواځیني داسلام مقدس دین وي ، چي ښځي په دیرعصمت اوعفت په پرسکونه پرده کي دارام ساه واخلي. له دي یادوني موهدف دادي، چي دافغانستان جهاددنړیوال ښکیلاك له خواخارل کیږي، تردي چي ځیني اکادمي مؤظفي دي، چي دبطلان اوتردیدلپاره یي استاد راتول کړي، نوبداسي حساسو شیبوکي دمجاهدینواوبیا په تیره دجهادي مشرانودیر لږ غفلت اوتساهل هم خیره له خبري اروي، اودغه لږښتدیه هم بیاکلونه کلونه جبران نه کړي . دکابینې دځنډیدلو په باب به دبي بي سي له رادیوسره دمؤظف صدراعظم مرکه هرڅااوریدلي وي. پدي باب دهیواددصدراعظم شکوه امیزي څرګندوني ددیري خیرتیاوړوي، اوهغه داچي دکابینې دومره ځنډیدل یوه ستره اشتباه وه، اویاداچي ځیني تنظیمونه پدي باب منفي پروپاګندکوي، او کټ مټ هماغه چاري سرته رسوي ، چي لویدیزشیطانان یې غواړي ، بیاترتولوبده لاداچي ځینولاتراوسه دخپلو وزارتونو لپاره افرادندي مشخص کړي، اونه یې پدي باب دصدراعظم دفترته کوم رسمي خبرورکړیدي. دااودي ته ورته خبري اوکارونه څرموړیه عقیده له دي پرته چي داسلامي حکومت مخنیوي اونړیوال کفرته یې معاشه خدمت وي. بله هیڅ ګټه نه لري. که نه دافغانستان ملت خونوړنه جنګ زغملي شي، اونه داسي خام سیاسي قیادتونه .زموږ ځیني مشران څه فکرکوي، چي افغانانو خپل ملیونونه شهیدان اوتابرابره جنګ ددي لپاره زغملي وو، چي پرسیاست دي سوداګري اومعامله وشي. اوکه داسي نه وي، نودکابینې ځنډیدل اوداسلامي حکومت نه جوړیدل دجهادګټوله چیلنجولو اوضایع کولو پرته بله څه مانالري. دایوه ستره اوژوندي پوښتنه ده ، چي له مجاهدملت سره راپورته شوي، اوخامخا به دمسئولینوګریوان ته پري لاس وروآچوي . اوس چي دجلال آباد ترون لاسلیك شوي، ټولو تنظیمونو منلي، اوهیڅا بې حتي دیوي مادي مخالفت هم ندي کړي، نوپه کابل کي دښتو خواکونو له خوا جنګ رامنځ ته کول اوستونزي پیداکول له مجاهد ملت سره خامخا داشك پیداکوي، چي ددي کاسي لاندي کومه نیم کاسه شته . اوداهماغه دسیسه ده ،چي لویدیځ زېرولي . ترڅودمجاهدینواوملت ترمنځ دشکوکو، شبهاتواوبې باوري خلیج پیاوړي کړي . نو ددومره لوي دښمن دپرځولو اوداسلامي حکومت دجوړولو پرضد ددومره ستري دسیسي دشنډولو لپاره یوه لاره شته ، او هغه دخداي (ج) اودین لپاره وروستني قرباني . داقرباني به څه وي؟ تیرترڅه خاطرات هیرول پرخپلو سیاسي خواهشاتوتیرېدل ، اودجلال آباد ترون ته چي دټولو مشرانودمشورو محصول دي، په ډیراخلاص اودیانتداري تسلیمېدل دي .

دفاتحي اعلان

دشهیدآدم خان دماما مرحوم بهلول دمرینې له کبله ټولو دوستانوته خبرورکول کیږي چي دمرحوم دفاتحي مراسم چي جنازه یې پخوادشمسه پورپه کلي کي دسه شنبي په ورځ خاورته سپارل شوي دجمعي په ورځ دجوزا په ۲۸ نیته دسهارداته بجونه تردولسوبوري دده دزامنو، ترونو، وریرونواوخوریونو لخوا دمرحوم په کورکاخیستل کیږي

پته:سرخرود-شمسه پور- معل خلیل

دپاکستان صدراعظم

کال کي به په پاکستان کي دانفلاسیون اندازه تقریباً ۹ فیصده ته ورسیږي .

شهادت

بیانګرعقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ

تحت نظرهیئت تحریر

پست بکس : ۱۰۳٦ یونیورستي ټاون پشاور

آدرس : جلال آباد چکتوري

حساب بانکي: ۸٥۲٦٤ دافغانستان بانك

تلفون : ۲۳۷۰